HMCS *Haida*
**National Historic Site**

# په ټول شوق د ماجراجويۍ پر لور



Parks Canada Parcs Canada

Canada

# په ايچ ام سی اس هايدا کې سياحت

د علياحضرتی کانادايی کښتۍ هايدا د ۲۷ قبيله يی جنګي کښتيو د جملې څخه ده چې په ۱۹۴۳ کال د دوهمي نړيوالي جګړې په ترڅ کې د کانادا سلطنتي بحري ځواکونو لخوا کارول شوې ده.



هايدا کښتۍ د ۲۰ کالو لپاره په دوهمه نړيواله جګړه، سړه جګړه او د کوريا په جګړه کې فعاليت کړی دی.

هايدا د دوهمی نړيوالي جګړی په ترڅ کې د ۱۹۴۳ کال څخه تر ۱۹۴۵ کال پورې د هرې بلې کانادايی کښتۍ په پرتله دښمن ته ډير زيان اړولی دی. ډېری کښتۍ يې ډوبی کړې او يا يی زيان ورته اړولی دی. دا کښتۍ د شمال قطب، د مانش کانال، پر نور ماندی  باندې حملې او د بيسکای خليج د جګړې وياړ لري.



هايدا د ۱۹۴۵ څخه تر ۱۹۵۲ کال پورې د کوريا په جګړه کې بوخته او له هغه څخه وروسته يې د کوريا په اوبو کی ګزمه کړې ده. هايدا د جګړی د وياړ د پنځم نښان په لاسته راوړلو سره د ملګرو ملتونو د قطار ويجاړونکو کښتيو د خاص کلپ

غړيتوب ترلاسه کړ. دا کلپ د ملګرو ملتونو د کښتيو يو ځانګړی کلپ دی

په دې کلپ کې د یوې کښتۍ د غړیتوب په خاطر باید کښتۍ د موټورونو په ګډون د دښمن د یوه قطار ټول واګونونه له منځته وړي او یا یې هم ویجاړ کړي وي. چې هایدا کښتۍ د دښمن د ۲.۵ قطارونو افتخار لري.

د کوریا د جګړې څخه وروسته هایدا دا اوبتلونو ضد کانادایی سلطنتی بحرې ځواکونو سره یو ځای او د تقاعد تر وخته هلته پاتې شوه. کله چې په کال ۱۹۶۳ کال هایدا د فعالیت څخه ووتله د هایدا لوی ګروپ لخوا چې د بحری ځواکونو د متقاعدو افسرانو او متخصیصینو یوه ډله وه، د کباړ شیانو د ځای څخه د کانادا تورنتو ښار ته ولیږدول شوه او ننداړې ته کیښږدول شوه او وروسته بیا به ۲۰۰۳ م کال هغه د کانادا د پارکونو د ادارې لخوا وپېرل شوه او د اوسني ځای د انټریو ایالت د هملتون ښار ته ولیږدول شوه.

## ستاسې اوس مهال لیدنه

د سلطنتي اچ ام سی اس هایدا کښتۍ کار کوونکو ډېر خدمتونه تر سره او زیاتې ستونزې یې ګاللي دي. د کښتۍ عمله به د خدمت په موده د زیات وخت لپاره د دوستانو او د کورنیو د غړو د لیدو څخه بی برخې و او د جګړې پر مهال به یې خپل ژوند په خطر کې اچاوه.

څه شی د دې سر ښندنې عامل و؟ تاسې کولای شی د دې پوښتنی د ځواب په اړوند خپل نظریات زموږ د کار کوونکو او داوطلبانو سره شریک کړئ.



# ښه راغلاست




د ۱۹۴۳ کال پر مهال اهم کارکوونکي

# د کتنونو لاربښود

**1 مخکنۍ برخه**

په کښتۍ کې د ښکته، پورته کېدو او وتلو برخه.

**2 د تورپيدو تيوب**

د ۱۹۴۳ کال څخه پاتې يوازنۍ وسله دا څلور تورپيدو څرخيدل او د کښتۍ له ارخونو يې ويشتل کړل.

**3 څلور انچه لوړ زاويه لرونکی غبرګ توپک**

دې هوايي ضد وسلو کولای شول تر ۱۵ کيلومتر واټن (له دې ځايه د هملتون هوايي ډګر) هدف په نښه کړي.

**4 د وړو افسرانو حجره**

د کابو ۲۰ تنو وړو افسرانو د ژوند ځای چې د کښتۍ پر هغه خدمه يې څار درلود چې کښتۍ ته يې تګ راتګ کاوه اوس هغه د کښتۍ د فعاليت انځور وړاندې کوي.

**5 د آمرينو کوټه**

د لوړ پوړو معامله کوونکو ځای

**6 د عملياتو کوټه**

د کښتۍ د عملياتو مرکز دی چې د اوبو د ژور توب معلومولو دستګاه د کښتۍ رادار، لوری پيدا کونکی او د چلولو څرخ په کې موقعيت درلود. د مالوماتو لپاره د لاربښود څخه مرسته وغواړي

**7 د سمندر کيپتان کابين**

دا برخه په سمندر کې د سفر پر مهال د کيپتان د ډوډۍ وړلو او ويده کېدو ځای وه

**8 برج**

د کښتۍ د چلولو مرکز، له دې ځايه د وسلو فير، څارل، لوری موندل او اړيکې نيول ترسره کېدل

**9 د سګنال د بيرغ برخه**

هغه توري يا شمېرې لرونکی بيرغونه يا جنډې د هغه په واسطه نورو کښتيو او يا سواحلو ته پيغامونه استول کېدل

**10 نرۍ لار (catwalks)**


هغه برخه چې د کښتۍ په شاوخوا کې د خوندی ګرزيد په موخه په ۱۹۴۴ کال کې ور زياته شوې ده.

**11 څلويښت ملی متر بوفينونه(Boffins)**

دا هواضد توپک د ۱۹۴۴ څخه په اوبو کی د کم زاويههلرونکو اهدافو د ويشتلو په خاطر کاريدل.

**12 د بيرني حالت د چلولو ځای**

د کښتۍ د چلولو  په خاطر د څلورو هغو ځايونو څخه يو دی چې که د څرخ خونه فعاله نه وه د هغی څخه به کار اخيستل کېده.



**13** **د هوا او سطحی ضد ۳ انچه او ۵۰ کالیبر (3“50) وسله**

دا اتومات د رادار په واسطه کنترولېدونکی ټوپک د ۱۹۴۹ کال څخه وروسته نصب شوی دی چې کولای شی په هره دقیقه کې تر ۸۰ مرمی فیر کړی

**14** **د اوبتل ضد مرمی غوځونکی**

د اوبتل کښتۍ ضد وسله چې په ۱۹۵۱ کال کې نصب شوی ده. کښتۍ پخوا تر دې د ژورو چارجونه څخه کار اخیست

**15** **د اداره کولو خونه**

د اطاق په مرکز کې د لفت محور بمونه دوه پوړه لاندی وړي

**16** **افسرانو کوټې**

د لوړې کچې افسرانو دا لوکس ژوند د کښتۍ د ټيټې کچې افسرانو سره پرتله کړی

**17** **د کپتان د ورځنی کابین**

د کپتان خونه سمبال په خصوصی حمام او دتفر

**18** **د درملنې ځای**

د کښتۍ روغتون چې د کښتۍ د ډاکتر لخوا څارل کېده

**19** **د انجنیرۍ دفتر او کابین، او راډيو ۲**

هغه ځای چی سر انجینر پکې کار او خوب کاوه او د کښتۍ د برق د جنراتور او يوه راديويی ملاتړ کونکې کوټه وه

**20** **د ماتور خونه**

د کیدای شوی د ۲ د بخار ماشین توربینونو سرعت تر ۳۶.۵ یا ۶۷ پوری ورسیږي

**21** **د زيان د ارزونې دفتر**

د هغه کړکیو د خلاصولو اجازه چی لاندې پوړنوته لاره وه د دې دفتر څخه ورکول کېده

**22** **د کښتۍ اصلي پخلنځی**

په دې ځای کې ۳، ۴ آشپزانو د ۲۰۰ تنو لپاره خواړه پخول

**23** **د لیږد ایستګاه**

په دې ځای کی د ادمیرانی د اور د کنترول ساعت ته مالومات ورکول کیدل تر څو ټوپک د نښه کولو په خاطر عیار کړي

**24** **د سربازونو کوټه**

هغه ځای چې ۲۰۰ تنو سربازانو په کې ډوډی خوړه، استراحت يې کاوه او ویده کیدل


**25** **لومړی راديو**

د اړیکو اصلی مرکز، هغه ځای چی د پیغامونو کود (رمز) لیری کیدل او تر لاسه کونکی ته استول کیده

## لومړنی خوندیتوب

- ⚠ په زینو کې د ښکته، پورته کېدو تر مهال متوجې اوسي.
- ⚠ په زینو کې د ښکته، پورته کېدو تر مهال متوجې اوسي.
- ⚠ د لندبل په وخت د کښتۍ غولی ښوېدونکی وي.
- ⚠ مو په لنډ ارتفاع ځایونو کې مو خپل سر پام ولری.

مهربانی وکړی وکتورونه او شمېری په خپل وار سره تعقیب کړی تر څو د لولو ټولې برخې ووینی.



# اچ ام سی اس هایدا ته



# په کښتۍ کې ژوند

د هایدا کښتۍ عمله د ټولې کانادا څخه راغلي کسان و چې د یو ځای کیدو لاملونه یې سره بېل و. ځینې یې لګه صاحبمنصبان مسلکي کسان و. ډیرو یې په خپله خوښه غوښتل خپل وطن ته خدمت وکړي، نورو یې په دې دلیل په کښتۍ کې ونډه اخیستې وه چې بحري ځواکونو هغوی ته ښه فرصتونه برابر کړې و.



د کښتۍ عمله ځوانان وو او غوښتل یې په دوهمه نړیواله جګړه چې خپل ارزښت او توان ثابت کړي. د کښتې د چلونکو منځنۍ عمر ۲۱ کاله او د لویانو عمر د ۴۰ کالو شاوخوا و.



کښتې د کښتۍ چلونکو او تجهیزاتو څخه ډکه وه. د کښتۍ عمله د ۲۲۵ څخه تر ۲۴۵ کسه و. کیپتان، ۱۴ کسه افسران، دریاب مزلی، د سوند موادو رسوونکي، میخانیکان، د رادیویي چارو متخصصین، رمز جوړونکي، ډوډۍ پخوونکې، د آشپزخانې عمله او نور متخصصین.



کښتۍ شپه او ورځ فعالیت درلود، کښتۍ چلوونکو باید
د بخار دیګونه تغذیه او اړیکې یې بر قرارې کړی وی.
ډوډۍ یې پخ کړې وی، تمرین یې کړی او ډیر نور کارونه
یې تر سره کړي وی تر څو کښتۍ او خدمه یې په ښه
حالت کې وی. په هایدا کښتۍ کی د ژوند ځانګړتیا
یوازیتوب او انډیوالی وه. اما د کښتۍ د عملې کډ کار د
دوی ترمنځ ټینګ یووالی رامنځته کړی و.

د اوبو او هوا خرابو او نه خوندي شرایطو د عملی ژوند
تل له ګواښ سره مخ کړی و. هر ګړۍ د خطر څخه ډکه
وه چی د دي لامل کېده چې هغوی ونشې کولای کورته
بېرته راوګرزي. هر ګړۍ د بحر طوفانې څپو کولای شول
هغوی بحر ته ور وغوځوی او ډوب یې کړي. هر ګړی د
جګړی او نښتې امکان و چې ساعتونه یې دوام کړی وی.
ټولټال هایدا د خپل ماموریت په دوران کې دوه تنه خپل
کار کوونکی لا لاسه ورکړې چی هغه د جګړی پر وخت د
ټوپکو پر وخت چاودنه وه.



که مو نن له خپلو لیدنو خوند اخیستی وي، دلته ځینې
نور مرکزونه دي چې د پارک کانادا لخوا اداره کېږي.
چی کولای شی د هغه ځخه همه کتنه وکړئ:

## Fort George فورت جورج



د کاناډا تېر مهال ته یوې په زړه پورې دروازې ته ننوځئ !
Niagara-on-the-Lake, ON
parks.canada.ca/fortgeorge

## Woodside وود ساید



د ویکتوریا دورې سره نیږدې شئ !
Kitchener, ON
parks.canada.ca/woodside

## Point Pelee پاینت پیلی



!د کاناډا تر ټولو سوېلي پناه ځای کشف کړئ!
Leamington, ON
parks.canada.ca/pelee

## Fort Malden فورد ملدین



راشئ وګورئ چې تاریخ ولې خوندور دی!
Amherstburg, ON
parks.canada.ca/malden

**parks.canada.ca/haida**

**facebook.com/HaidaNHS**

Également disponible en français.

© His Majesty the King in Right of Canada, represented by the President and Chief Executive Officer of Parks Canada, 2023.